مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۲/۰۵

# غزل

همداسې ښه يم ارماني مې يوسه
مرګه! راځه پاتې ځواني مې يوسه

د ژوندانه له هر يو کار ستړی يم
پرانيزه غيږ دې سمدستي مې يوسه

چې د نفرت د دعوه ګيرو ښکار يم
ساه رانه واخله زنده ګي مې يوسه

چرته مې پټ کړه د دنيا له پوره
ژونده! نور بس دی غريبي مې يوسه

باده! راوالوزه ما غيږ کې واخله
د جانان کلي ته حتمي مې يوسه

چې پسرلی پرې خوشاليږي اشنا
خون وربخښمه قرباني مې يوسه

مصطفی پسرلی
04/12/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ